


## تکراري پوښتني:

# اچ آی وي/ایډز






دا سند د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره په بدیل فرمیټ کې یا د انګلیسي پرته په بله ژبه کې د غوښتنې د لارې د هغه چا لپاره ورکول کیږي چې د انګلیسي ژبې محدود مهارتونه ولري. ددې لپاره چې د دې چاپ شوي سند په بل فرمیټ یا بله ژبه کې غوښتنه وکړئ، بریښنالیک راواستوئ care.assist@dhsoha.state.or.us یا زنګ ووهئ 971-673-0153 (voice) یا 971-673-0372 (TTY).

انځورونه چې د اینډ اچ آي وي اوریګون نوښت لپاره کارول شوي دي د ستاک انځورونه دی، د ماډلو لخوا اخیستل شوي دي.

endhivoregon.org

Pashto (1/2025)





## اضافي سرچینې

د لاندې ویبپاڼې له لارې زده کړئ چې اوریګون د دې وبا د لمنځه وړلو لپاره څنګه کار کوي:

endhivoregon.org

نیشنل ایډز هاټلاین ته په 1-800-232-4636
(انګلیسي او هسپانوي) 1-888-232-6348
(TTY) ته د زنګ وهلو له لارې د اچ آی وي په اړه خپلو پوښتنو ته ځواب ترلاسه کړئ، څنګه خپل ځان خوندي کولی شئ او چیرته معاینات کولی شئ.

د ایډز اینفو څخه ترلاسه شوي معلومات
*https://hivinfo.nih.gov/understanding-hiv/fact-sheets*

## د هغو خلکو لپاره چې په اچ آی وي/ایډز باندې اخته وي کوم خدمات شتون لري.

هغه خدمات چې په اچ آی وي/ایډز باندې د اخته خلکو لپاره شتون لري د ریان وایټ اچ آی وي/ایډز په نامه یادیږي، دا د ایډز لرونکي د هغه ځوان فعال چا چې د تبعیض او له اچ آی وي/ایډز څه د ویرې پر ضد په 1980 کلونو کې مبارزه کړې وه په نوم یادیږي.

### تاسې یې مستحق یاست که چیرې:

- تاسې په اچ آی وي/ایډز باندې اخته یاست
- عاید مو محدودي وي (د عاید محدودیت د پروګرام په نوعیت پورې اړه لري)
- تاسې د اوریګون په ولایت کې اوسیږئ

### تاسې ممکن د لاندې خدماتو سره د مرستې لپاره وړتیا ولرئ:

| | |
|---|---|
| د اچ آی وي د قضیې مدیریت - کیس منجمینټ | د مخدره توکو او الکولو درملنه/سلامشوره ورکول |
| صحي بیمه | کور ورکول |
| تجویز شوي درمل | ټرانسپورټ |
| روغتیایي پاملرنه | خواړه |
| د غاښونو پاملرنه | اسانتیاوې |
| د ذهني روغتیا په اړه سلامشوره | |

د اچ آی وي کیس منجمینټ معلومات او ریفرل یا راجع کوونکي ورکوي او د هغه خلکو لپاره د همغږۍ په رامنځته کولو کې مرسته کوي چې اچ آي وي لري. هغه معلومات چې تاسې یې د خپل کیس منیجر سره شریکوئ محرم دي. په خپله ساحه کې د لاندې ویبپاڼې له لارې د اچ آی وي کیس منیجر پیدا کړئ:

healthoregon.org/hiv



## د اچ آی وي د روغتیایې خدماتو د لګښت ورکولو اړوند کومه مرسته شتون لري؟

CAREAssist, Oregon’s AIDS Drug Assistance Program کولی شي د مستحقو اوریګنانو لپاره چې اچ آی وي لري د روغتیایې خدماتو او درملو لګښت ورکړي. که تاسې صحي بیمه لرئ، CAREAssist کولی شي د مجرایې وړ، د مشترکو تادیاتو او مشترکې بیمې لګښت ورکړي.

که تاسې بیمه نلرئ، CAREAssist کولی شي د بیمې لپاره په نوملیکنه کې ستاسې مرسته وکړي او د اچ آی وي اړوند بیړني طبي ملاقاتونه، معاینات او د درملو لګښت ورکړي. 1-800-805-2313 ته زنګ ووهئ او وګورئ که چیرې تاسې مستحق یاست او په اړه نور معلومات د لاندې ویبپاڼې زده کړئ،


healthoregon.org/careassist



## اچ آی وي/ایډز څه ته وايي؟

اچ آی وي (د انسان د خوندیتوب د کمښت ویروس) هغه ویروس دی، چې د اچ آی وي مرض لامل کیږي. ایډز (د اکتسابي خوندیتوب د کمښت سندروم) د اچ آی وي تر ټولو پرمختللې مرحله ده.

اچ آی وي د معافیت سیستم د مرض سره د مبارزې کولو حجرو باندې برید کوي. د دې حجرو ویجاړول د بدن لپاره دا ستونزمن کوي چې د مرضونو او ځینو سرطانونو پروړاندې محافظت وکړي. د اچ آی وي له درملنې پرته، اچ آی وي په تدریجي ډول د معافیت سیستم له منځه وړي او ایډز ته وده ورکوي.





## اچ آی وي څرنګه خپریږي؟

اچ آی وي یوازې د بدن په ځینو مایعاتو کې د یو شخص څخه چې اچ آی وي ولري خپریږي ځوک چې د پیژندلو وړ ویروس لري )په وینه کې کافي ویروس شتون لري، چې معاینات یې پیژندلی شي(. یو ځوک چې اچ آی وي ولري نشي کولی چې په جنسي ډول اچ آی وي انتقال کړی که چیری هغه نه پیژندونکی ویروسي بار ولري (کوم چې د درملنې په پایله کې په وینه کې د ویروس خورا ټیټ مقدار ته ویل کیږي).


### د بدن معایات چې کولی شي اچ آی وي خپور کړي عبارت دي له:

- وینه
- جنسي مایعات، مني، د مني څخه دمخه مایعات، د ښځې د تناسلې آلې مایعات، د مقعد مایعات
- د سینې شیدې

### په متحده ایالاتو کې، اچ آی وي په عمده توګه په لاندې توګه خپریږي:


- د ښځې په تناسلې آله یا مقعد کې د کنډوم او درملو څخه پرته سیکس کول هغه چې د اچ آی وي مخنیوی کوي (که چیرې اچ آی وي منفي وي) یا درمل خوړل ترڅو په اغیزمنه توګه د اچ آی وي درملنه وکړې (که چیرې اچ آی وي مثبت وي).
- د درملو د وسایلو شریکول – لکه پیچکاري- د هغه چا سره چې اچ آی وي ولري.

## د اچ آی وي د خپریدو مخنیوي لپاره ځینې لارې کومې دي؟




### کنډوم

د هر جنسي ملګري سره، هر ځل کشکي یا پولیوریتین کنډوم یا پلاستیکي ټوټه وکاروئ. د اوبو-یا سیلکون غوړ کولی شي چې ارامي زیاته کړي او د لیک کیدو مخه ونیسي خو د غوړ سره یې یوځای مه کاروئ (لکه وسلین او یا د مساج تیل).




### خوندي پیچکاري

که تاسې مخدره توکي پیچکاري کوئ، نو د دیګونو، مالوچو او اوبو په شمول شیان مه شریکوئ. د ناروغیو لکه د اچ آی وي او زیړي د انتقال د مخنیوي لپاره هر وخت یوه نوې پیچکاري وکاروئ. د ځایي پیچکاریو د تبادلې په اړه لاندې ویبپاڼه وګورئ
healthoregon.org/hivprevention




### درملنه

که تاسې د اچ آی وي سره ژوند کوئ، تاسې کولی شئ نورو ته د جنسي اړیکې له لارې د اچ آی وي انتقال چانس هره ورځ د اچ ای وي د دوا خوړلو له لارې له منځه یوسئ، لکه څرنګه چې مخکې تشریح شوي دي. دا به له تاسې سره د نه پیژندل کیدو ویروس بار په لاسته راوړلو او ساتلو کې مرسته وکړي. د اوریګن کیار او د درملنې پروګرام په اړه نور معلومات له لاندې ویبپاڼې څخه لاسته راوړئ، ادرس یې دی
healthoregon.org/hiv



### STI سکرینینک

د سیکس له لارې انتقال شوی مرض (STI) درلودل چې درملنه یې نه وي شوې په دې معنا دی، چې تاسې ډیر احتمال لرئ چې په اچ آي وي اخته شئ. ورته فعالیتونه چې د STI لامل کیږي تاسې د اچ آي وي له خطر سره مخامخ کوي او نه درمل شوی STI د اچ آی وي لپاره دا اسانوي چې ستاسې بدن ککړ کړي. ټول STI به نښې نښانې نه لري. منظم سکرینینګ کولی شي د STI درملنې په چټکۍ سره ډاډ ورکړي، او په اچ آي وي باندې ستاسې د اخته کیدو خطر راکم کړي. د لاندې ویبپاڼې له لارې تاسې ته په نږدې ساحه کې معاینات پیدا کړئ: gettested.cdc.gov



### PrEP او PEP

که تاسې اچ آی وي منفي لرئ، PrEP دوا وخورئ (pre-exposure prophylaxis) (د وقایې دمخه افشاکیدل PrEP یوه ورځنۍ ګولۍ ده، چې د سیکس له امله په اچ آی وي باندې اخته کیدل شاوخوا ۹۹ سلنه راکموي. د هغو خلکو له ډلې څخه چې مخدره توکي پیچکاري کوي، PrEP په اچ آی وي باندې اخته کیدل ۷٤ سلنه راکموي کله چې هره ورځ وخوړل شي. د PrEP ځایي خرڅوونکي
oraetc.org/prep

PEP (post-exposure prophylaxis) په دې معنا دې، چې د اچ آی وي سره د احتمالي مخامخیدو وروسته په ۷۲ ساعتونو کې دننه د ویروس د مخنیوي لپاره د دوا خوړل. PEP د بیړنیو حالتونو لپاره دی. که تاسې فکر کوئ، چې تاسې په دې وروستیو کې د سیکس کولو په جریان کې په اچ ای وي باندې د پیچکارۍ د شریکولو او د مخدره توکو د کارولو یا د جنسي تیري له امله اخته شوي یاست، د خپل روغتیاپال یا د ای آر ډاکټر څخه د PEP په اړه پوښتنه وکړئ.





## د اچ آی وي درملنه څه شی دی؟

د اوریګن ولایت اوسیدونکي ځوک چې په اچ ای وي باندې اخته وي تر ډیر عمر ژوندي وي، صحي ژوند درلودل د اچ ای وي د درملو د خوړلو له امله وي. د اچ ای وي درملنه په وینه کې د ویروس مقدار راکموي، د معافیت سیستم پیاوړی ساتي او په ایډز باندې د اچ آی وي ویروس د بدلیدو مخه نیسي. هغه خلک چې اچ آی وي ولري او دوا خوري لکه څنګه ورته تجویز شوې وي او د ویروس غیرکشفي بار هم ولري د سیکس شریکانو ته اچ آی وي نشي لیږدولی. د امیندوارۍ په دوران کې د اچ آی وي د درملو خوړل ماشوم ته د اچ آی وي د انتقال مخه نیسي.